## مطبوعاتي اعلاميه

### له هند څخه تر قدس پورې؛ خلافت تاسيس کړئ او ظلم پای ته ورسوئ!

دواړه کنفرانسونه، چې د دې اونۍ په پای کې د «حزب التحرير ـ بريټانيا» له لوري تنظيم شوي وو، په بريالیتوب سره پای ته ورسېدل. مرکزي پيغام يې د داسې يو اقدام پر لور د مسلمانانو رابلل وو، څو له هندوتوا او صهيونيستي حکومتونو سره د عادي کولو پروسې او معاملې رد کړي؛ چې هره ورځ د مسلمانانو اساسي حقونه تر پښو لاندې کوي. مسلمانان بايد د خپل وخت له دې ستر منکر (شر) څخه نهی وکړي، چې د اسلامي هېوادونو د واکمنانو تر سترګو لاندې ترسره کېږي او د مخنيوي لپاره يې ان د ګوتې پورته کولو جرات نه لري. د امربالمعروف او نهی عن المنکر تر څنګ مسلمانو پوځونو ته بايد يادونه وشي چې د دوی لومړۍ دنده له دغسې بريدونو څخه د امت ساتنه ده، نه د رسمي کارمندانو يا خاينو واکمنانو ساتنه. په پای کې تر ټولو لوی معروف دا دی چې د نبوت پر تګلاره د خلافت دولت د بيا تاسيس لپاره په کلکه مبارزه وشي.

ويناوال د ملتپالنې د ګواښ په اړه وغږېدل. مظهر خان ملتپالنه "په انساني ټولنو کې سرطان" وبلله او څرګنده يې کړه چې دا د ابليس له کبرجن جرم څخه کمه نه ده، چې خلک يو له بل څخه ځان غوره يا ډېر مستحق بولي. دغه شر په ميليونونو خلک بې کوره کړي او له هند څخه تر قدس پورې د زرګونو کسانو د وژلو لامل شوی. هندوتوا او صهيونيزم دواړه ملتپاله سېکولر ايډيولوژيانې دي، چې په دين کې هېڅ ځای نه لري او مسلمانان بايد هر ډول قومي، نژادي او قبيلوي تفرقه رد کړي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(صِبْغَةَ اللهِ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ صِبْغَةً وَنَحْنُ لَهُ عَابِدُونَ)** [بقرة: ۱۳۸]

ژباړه: *خدايي رنګ ومنئ! (يعنې د ايمان، توحيد او اسلام رنګ) او له خدايي رنګ څخه به کوم رنګ غوره وي؟ موږ يوازې د الله سبحانه وتعالی عبادت کوو.*

«روپون شاهد» بيا پر دې وغږېد چې اسلام په اوومه پېړۍ کې داسې خلکو ته راغی چې په بشپړ ډول متفرق وو، خو دوی يې متحد کړل او غوره امت يې ترې جوړ کړ. کله چې اسلام دين د اسلامي دولت په توګه نافذ شو، تاريخ يې له داسې بېلګو څخه يادونه کوي چې د نامسلمانو ساتنه يې پر غاړه واخيسته او د دوی د پرمختګ لپاره يې فرصتونه برابر کړل. دا د سېکولر هندوتوا، صهيونيست او په حقيقت کې غربي نظام اساسي دنده ده چې دوی په منظمه توګه پر لږکيو فشار راوړي. دا ډول نظامونه ټول خلک، هغه که اقليت وي او يا اکثريت،

ناکاموي، په دې کار سره يوازې د خلکو اذهان مغشوشوي او له تبعيض څخه کار اخلي. په داسې حال کې چې د اشرافو يوه کوچنۍ ډله د خپلو ګټو لپاره ټول هېواد لوټوي.

د حزب التحرير د مرکزي رسنيو دفتر د ښځو څانګې مشرې ډاکټرې «نسرين نواز» څرګنده کړه چې د هند په لوېديځه برخه کې د هندو پاچا «راجا داير» ظلم د دې لامل شو چې اسلامي پوځونه دغه برخه د اسلامي عدالت پر مخ پرانيزي او يو شمېر هغه مسلمانې ښځې له بنده ازادې کړي چې دغه پاچا بنديانې کړې وې.

په اتمه پېړۍ کې «محمد بن قاسم» له دمشق څخه د هغوی د خلاصون لپاره ولېږل شو. د مسلمانو ښځو عزت تر نن ورځې تل د مسلمانانو لپاره سره کرښه وه. اوس چې يوه مسلمانه ښځه په ښکاره ډول وهل او ډبول کېږي، بې عزته کېږي او حتا وژل کېږي، خو د مسلمانانو تش په نوم واکمنان پرې سترګې پټوي. ډاکټر نواز له هند څخه تر قدس پورې پر مسلمانو ښځو د ظلم ډېری ټکان ورکوونکي مثالونه وړاندې کړل. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(إِنَّمَا ٱلْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ)** [حجرات: ۱۰]

**ژباړه:** *«مؤمنان سره ورونه دي...»*

او همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**(...وَإِنِ ٱسْتَنصَرُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ فَعَلَيْكُمُ ٱلنَّصْرُ...) [انفال: ۷۲]**

**ژباړه:** *«...هو، که هغوی د دين په اړه له تاسو څخه مرسته وغواړي، نو مرسته کول ورسره در باندې فرض دي...»*

ملتپالنه هغه ناروغي ده چې له ملتونو او دولتونو انسانيت اخلي، د نسل وژنې پر مهال غلي او د خوځېدو وړ نه وي او له ملي ګټو پرته بله هېڅ سياسي اراده نه لري.

تاج مصطفی حاضرينو ته د امت د پروژې په توګه د خلافت د تاسيس پر اړتيا وغږېد، چې دا يوه حياتي مسله ده. سربيره پردې، بايد د ملتپالنې کرښې لېرې کړو، چې د استعمار له لوري زموږ په زړونو کې اچول شوې دي. زموږ ذهن هېڅکله د داسې وېشونکو پولو له رامنځته کېدو سره جوړ نه دی. دا پولې د شګو هغه کرښې دي چې د غربي ښکېلاکګرو له خوا جوړې شوې او زموږ په خاوره کې د غرب د ملاتړو رژيمونو په مرسته ساتل کېږي؛ چې بايد له منځه يوړل شي. دوی هېڅ ډول قانوني ارزښت نه لري او يوازې زموږ په زيان دي.

وروستۍ کلمه دا چې موږ بايد پر خپل ميراث پام وکړو.

ایا زموږ میراث به دا وي چې د خپل امت په حال اوښکې تویې کړو، ایا زموږ اوښکې به زموږ د ورونیو او خویندو د درد مخنیوي لپاره درمل شي؟ یا دا چې یوازې زموږ د امت د دردونو کمولو لپاره خیرات ورکړو، په داسې حال کې چې پونډ او ډالر زموږ پر ورونیو او خویندو د ګولیو او بمونو باران او ظلم پای ته نه رسوي؟

یا دا چې زموږ میراث باید د هغه ستر دولت او اسلامي رهبرۍ بیا تاسیس وي چې له نژاد، قومیت او د زیږېدلو له ځای په پام کې نیولو پرته د ټولو مسلمانانو ساتونکی وي، یعنې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره د خلافت دولت تاسیس.

**(مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْعِزَّةَ فَلِلَّهِ الْعِزَّةُ جَمِيعًا)** [فاطر: ۱۰]

**ژباړه:** *«ځوک چې عزت غواړي، باید وپوهېږي چې عزت ټول د الله سبحانه وتعالی دی.*

**یحیی نسبت**

**د حزب التحریر- بریټانیا مطبوعاتي استازی**

**۱۴۴۳ هـ.ق کال، د ذوالحجې ۱۸مه**

**۲۰۲۲م کال، د جولای ۱۷مه**

**د صدور ګڼه: ۱۲/ ۱۴۴۳**